

Ketabton.com

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه:

||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

د کتاب نوم :: پریشانه افکار

لیکوال :: عبدالرؤف بېنوا

د چاپ کال :: ۱۳۳۵هـ ش کال

د چاپ کال :: ۱۳۷۸هـ ش کال

د چاپ شمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه

خپرندوی : صحاف نشراتي موسیسه

دپریشانه افکار د چاپ ټوله حقوق د خپروونکي سره محفوظ دي

بېنوا پاڼه د ښاغلي فدامحمد فدا څخه مننه کوي چي پریشانه افکار يې زموږ په غوښتنه له سره کمپوز کړ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پښتو شاعران باید څه وکړی

...باید پښتانه ځلمي شاعران له موهوماتو او خرافاتو څخه ځان را وګرزوي او تر هر څه دمخه د اولس او ټبر ویښوالی په نظر کښی ونیسی او پښتنو شاعرانو ته په لوړ ږغ ووایو : ( تر څو پوری؟) اوس باید د زنځدان له کوهي څخه د همت په مزي د وطن پرستۍ په رسۍ دفدا کارۍ او عمل میدان ته راووزو . په پلار او نیکه یا د مړو په ستاینه نه خلاصیږو ، دنیا مو وینی د لافو او پټاکو په جامه کښی پټیدلای نشو، دنیا تیزه روانه ده او هر څوک چی ددې تیزی مخه ، ونیسی ، هغه به نیست او نابود شي موږ له قافلې نه ډیر وروسته پاته یو پښتنی همت او ټینګ عزم پکار دی چی د همزولو سره ځان سم کړو او د تمدن په کاروان پسی ځان ورسوو دخوب دوره تیره شوه د ملت ویښول یوازي د ځلمیو شاعرانو وظیفه ده بس...

او په دی خبره کښې چي ( ځینی خلګ ) وایې یو ځلمی شاعر مي ونه لید چی یو څاڅکی اوښکه یې له سترګو توی شوه او ضمنا ګویا د مینی له تاثیر او اغیزې څخه منکر ښکاري ، سخت مخالف یم او فقط همدغه یوه جمله یې د ځواب د پاره کفایت کوي چی � هر وخت که دغو خلګو، حسن او جمال انسانی عواطف او احساسات ښکلیتوب او جذابیت له دنیا نه واخیست البته مینه او محبت به هم ورک شي � او که دا شیان له دنیا ورک شي نو ژوندون به ډیر وچ او بې خونده وي ټول موجودات خصوصا انسانان به یو له بله متنفر او بیزار شی نو په شعر کښی دا خوا هم ضرور ده مګر نه داسی چی بیخی پکښی فانی سی ... که څه هم د مینی په دنیا کښی فنا کیده به یو شخص د ځان د پاره سر لوړی بولی او ښه حظ به ځنی اخلی خو البته جامعې ته ګټور نه دي.

راغلو ... دې ته چي د پښتون شاعر څه وظیفه ده ؟ عربی اوزان ښه دي که ملي ؟ د دیوانو په څیر خط و خال و ستا یو که نور څه ؟

د لومړی پوښتني ځواب که څه هم خورا اوږد بحث او څیړل غواړي بیا هم په لنډ او خلص طور سره ویلای شو چي د شاعر وظیفه په عمومي توګه ښې لاري ته د انسانانو رابلل او رهبري کول دي ، انسانان د روح پاکوالي ته ملتفتول او یو د بل مرستي ته تیارول او د ژوندون د مشکلاتو پر مقابل د بري موندلو په نیت ولاړول دي او نور ...، مګر په خصوصي توګه د پښتون شاعر وظیفه د پښتون ملت او اولس ویښول د دوی عیبونه ورښول ، ددوی ملی احساسات ژوندي کول د وطن دوستۍ او ملیت پروری ،د حسن ستایل ، دبې وزلو کونډو او یتیمانو پر حال ژړل ، د بډایانو زړونه نرمول ، د استقلال او خپلواکۍ مینه د ملت په افرادو کښی ترزیقول ، د مظلومانو په حال د ظالمانو خبرول بلاخر د ټولو اجتماعی عیبونو پر خلاف مجادله کول دي چي په پای کښی به نو شاعر د خپل روح د ډاډینی او تسلۍ د پاره هم د شعر ویلو حق لري او خپل و روح او عواطفو ته به وده ورکوی...

د دوهمی پوښتني ځواب خو څرګند دی چي د هرچا خپل شی خوښ وی او د بل شی د ځان کولای نه شي ، نو پښتنو ته د پښتنو ملی او زان ښه دي او پر روح باندي یې ډیره اغیزه او تاثیر لري ، په عوامو کښی به د دیوان والا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو یوه غزله هم د چا په یاد نه وی ، مګر د هغو ملي شاعرانو بدلي چي پر ملي او زانو جوړي شوي دي دهر پښتون زلمي په یاد دي ، پر لارو او مجلسو کښی یې وایي . خو دلته دا خبره هم باید هیره نه شي کم خدمت چی دیوان والا وو پښتو ژبی ته کړی دی د ډیری ستاینی وړ دی او که موږ ددوی له خدمته سترګی پټوو غټ ظلم بلکه خیانت دی ، نو هم به د دیوان والا وو قدر کوو او هم به تر دې وروسته زیار باسو چی په هره ، توګه چی عوام زموږ خبری اوری او غوږ ورته نیسی باید په هغه توګه وږغیږو او دوی له ځانه سره مله کړو.

د دریمی پوښتنی ځواب هم ښکاره دی . ځکه چی که مونږ پر دې قائل یو چی شعر پر انسانانو اغیزه او تاثیر کوی یاد دوی په ژوند کښی تحول پیښولای شی نو دا هم ضرور باید ومنو چي پښتانه شعراء د ژوند په اوسنۍ دوره کښی باید څه نه څه د خط وخال له دنیا څخه ووزي او په اجتماعي دنیا کښي له شعره کار واخلي ؛ هو ، هره زمانه خپل خواهشات او غوښتنی لري ، شاعر هم مجبور دی د زمانې له حاله سره سم وږغیـــــــږي.

په اوسنۍ دنیا کښي د خط او خال مفهوم له نظره لوېدلی دی که چېری وي هم ډېر لږ دی ، نو پښتنو شاعرانو ته نه ښایی کم مضمون چی نوری دنیا مخ ځني اړولی دی ، دوی اوس هغه ته هڅه وکړي او د هغه په شاوخوا کښي زور ولګوي.

)ارواښاد استاد عبد الرؤف بینوا(

۱۷۴ ګنه انیس ورځپــانه

۲۹ /تله/۱۳۲۲ کال

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پرېشانــــه افکـــــار

ګران بېنوا خپلو منظوم او منثورو اشعارو ته � پرېشانه افکار� وایي، دده د شعرونو دا برخه د نظم مجموعه ده چي د پرېشانه افکارو لومړۍ برخه ورته وایو او دوهمه برخه به یې که خدای کول د منثورو اشعارو مجموعه وي.

ښاغلی بېنوا د افغانستان په اوسنیو لیکوالو او شاعرانو کښي ډېر منلی او مشهور سړی دی چي د ځانته سبک خاوند ګڼل کیږي او د ادب په ډېرو خواوو کښي یې خپل استعداد او لیاقت په کافي ډول ښودلی دی.

دی په شاعرانو کښي ښه شاعر ، په ډرامه لیکونکو کښي ښه ډرامه نویس او په مؤرخینو کښي د ښه برخي خاوند دی.

په ادبي فنونو کښي دده تألیف او تصنیف یعني د ادبي فنونو کتاب دده علمي او ادبي پوهه ډېره ښه څرګندوي.

سربېره په دې دده انتقادي آثار او مقالات د ډېري ستاینی وړ دي چي دده ادبي جرئت او شجاعت پکښي ښکاره دی او په شخصیت کښي یې ډېر اثر لري.

یو بل امتیاز چي دی یې له نورو ډېرو لیکوالو څخه لري هغه دده په انګلیسی پوهیدل دی چي له ده سره یې په لیکلو کښی ډېره مرسته کړېده.

دا دومره راز راز فطري او کسبي ښېګڼي چي دده په برخه رسیدلي دي بیا هم دی له بېنوا توب څخه نه ژغوري ځکه چي دده بېنوا یي شخصي او فردي نه ده بلکه په اجتماعي احساس او شعور بنا ده.

زه د ښاغلي بېنوا شاعري دده په نورو کمالونو غوره ګڼم او په دې باب کښي ورته به ډېر ښه حق قائل یم.

دده د اشعارو دغه برخه چي پښتو ټولنه یې د یوه ادبي ارمغان په ډول چاپوي دده شاعرانه خیالات تاسو ته ډېر ښه معرفي کوي او د بېنوا معنوي او حقیقي څېره پکښي ډیره ښه لیدلی شئ.

دی طبیعتا شاعر دی، دده ژوند ، دده صحبت ، دده خوی ، دده فکر ، دده ناسته ولاړه ، خوراک او څکاک ډېر شاعرانه رنګ لري او اصلي رنګ یې همدغه دی.

دده په اشعارو کښي تاسي د کلاسیک شعر خالونه او دړی مه ګورئ بلکه د خیال او فکر ښکلیتوب او ښایست وګورئ.

کوم درد او احساس چي له دغه شاعر سره شته ډېر قدر یې وکړئ او په محبت ورته وګورئ.

دده له پرېشانۍ او پرېشانه افکارونه د ډېرو هوښیارانو شخصي اندېښنې او ډېر بې غمه او بې درده عالم ځار شه.

تاسي دده په ظاهري بڼه او سور سپین رنګ مه غولیږئ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی رښتیا وایي : � خدایږو د ژړایمه ، خدایږو د ژړایمه� او دا خبره ځکه رښتیا ده چي بېنوا د خپل ملي او اجتماعي شعور په برکت د یوه لوی وجود جزء دی چي ژړل پرې په کار دي.

هغه څوک چي په اخترونو کښي د یتیمانو په حال څوريږی او د پردېسانو په هدیره اوښکي تویوي هغه په هر حال کښي بېنوا دی او د عیش و عشرت باده یې له بېنوایانو نه نشي بیلولی.

گل پاچا � الفـــت � دپښتو ټولني رئیس

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیـــــاباني گـــــل

د عدم په غېږ کښې پروت وم ، خبر نه وم له جهانه

نه محتاجه د نسیم وم ، نه مي وېره له : خــــــــزانه

نه مي پاڼي وې نه څانګي، نه غوټۍ چیري خندانه

ځنګه راغلم څه را وشو،چي هیڅ پوه نشوم له ځانه

څه شیرین خوب د عدم و ، له هرڅه فراموشي وه

کم بې نیازه را بیدار کړم،هري خواته خاموشي وه

============

نه د شپې تیاره خوره وه، نه د ورځې څه رڼا وه

نه ښادي نه غم و هلته ، نه ژړا وه نه خنـــدا وه

نه د میاشتو کلو شمېر و ، نه د نن پرون سودا وه

خو به څه وایم چي څه و ، د سکوت پټه دنیا وه

نه وږمه نه بوی نه رنګ و،چي اوس پاڅي له دې ګلو

نه کـــړاو د بوراګـــانو ، نه اتـڼ و د بلبـــلو

============

څه فایده له دې وجوده،چي مي دوې ورځي ژوندون دی

غنچه خوله له خندا ډکه ، ګرې پس ئې بیا رژون دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاله سر له خاورو هسک کړ، بیا په زړه داغ ځگرخون دی

غېـږ په غېږ پاڼي دي ریږدي،چی په مخ کښي ئې بېلتون دی

نن که زېب یمه د ځمکی ، سبا خاوري د بیابان یم

دا هوس به نیمه خوا شی ، تر پښو لاندي داسمان یم

============

نن که نجوني راته خاندي ، بویوم د دوي لمني

یائې پاس پراوربل اېښی،چي په ماځي کبرجني

یا امېل د دوي د غاړي ، چي ئې پروت پر سینې سپیني

بیا مي دوی لاسو کښي موږي ، چي خزان راشي دمني

دا دنیا دائې وفاده ، هر ژوندی مطلب آشنا دی

که انسان که ځناوردی،که بلبل دی که بورا دی

============

ځما په ځېردي ډیرگلونه،دې بیدیا کښي غوړیدلي

یو عالم آرزو گاني ، دوی خاطر کښي وې ساتلي

بیرته ډک زړه له ارمانه ، دعدم ولور ته تللي

د فلک له لاسه خوارشول،چي فلک وه نازولي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



آه زلمیه!هوس مه کړه،ستا هم دا رنګه حیات دی

پوه به نشې راغلې لوی شوې،هم په دې شان دي وفات دی

============

که یو بوټی د صحرا یم ، که ګل ښکارم ګلالی یم

فکر بویه غلط نشې ، زه هم تا غوندي زلمی یم

چي لامست په زلمیتوب و ، د هغه نامراد زړګی یم

نورصورت ئې خاورې شوی،زې د مینې سورغمی یم

اوس خندا سبا ژړا ده ، نن راغلی سبا درومـــم

نه پوهېږم چي به ورک شم،او که بیابه ژوندون مومم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په چا پروا نشته

د زړه اور زه لیونی کړم = فریادونه لکه نی کړم

وهرچا تې خندنی کړم = اوس به څه ته مخ سپینی کړم

خوښ مي لیونتوب دی بېله دې د ژوند رڼا نشته

زما په چا پروا نشته

===========

لیونی د محبت یم = نازولی د قدرت یم

نوی گل د طبیعت یم = شین په باغ د حقیقت یم

دزړه په آه غوړېږم،ستا حاجت باد صبانشته

زما په چا پروانشته

===========

که وجود مي و، ناولی = ما دزړه په وینو ولی

په سرو اوښکو مخ پرېولی = یار حضورته درېدلی

لمونځ د عشق مي ادا شو، نور مي چاته اقتدا نشته

زما په چا پرواه نشته

===========

لیونتوب کښي آزادي ده = هوښیاري نامرادي ده

په خلوت کښي څه ښادی ده؟ = د خوارۀ ژوند بربادي ده

ځوک چي مجنون نه وي، خود به وايي چي لیلا نشته

زما په چا پرواه نشته

===========

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه به درومې مرده دل ته؟ = ګل ښائیږی وبلبل ته

برېږ راشه زما کوګل ته = محبته! مځه بـــل ته

ټول ماده پرست دي ، زړو کښې داغ د تمنا نشته

زما په چا پروا نشته

===========

ساقي بیا محفل کړه نوی = په جام ونمانځه هرژوی

په لمبو د میني سوی = په نارو لکـــه کـکوی

نور جامونه غواړم په دې جام کښې څه صهبا نشته

زما په چا پروا نشته

===========

هوښیاری له کوره لېـږده = دا زړې سندري پرېږده

بیا پربل تارګوتي کښېـږده = نغمې وایه سره رېـــږده

ډار مه کړه مطربه! دې مجلس کښې یو دانا نشته

زما په چا پروانشته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلی شانته انقلاب

نسیم ووې د ګل غوړ کښې، بدل شو د یارانې رنګ

غلی شانتــــه انقــــلاب دی، بدلوي د زمانی رنګ

===========

ورسره نوي رنګونه = رنګارنګ تحولونه

کړي سمسور به راغ رغونه

موسم بل دی هم بل شوی د بلبل د ترانې رنګ

غلی شانته انقـــلاب دی، بدلوي د زمانې رنګ

===========

دړي وړي زوړ رباب دی = زوړ مطرب خانه خراب دی

زوړ آهنګ د روح عذاب دی

نوی ساز نوی آواز دی، هم شو نوی د نغمې رنګ

غلی شانتــه انقــــلاب دی ، بدلوي د زمانې رنګ

============

نوی دام نوی صیاد دی = نوی چل نوی بېداد دی

نوی آه نوی فریاد دی

هوښیاري صید لره بویه، بدل شوی د دانې رنګ

غلی شانته انقـــلاب دی ، بدلوی د زمانې رنګ

============

لري نوي محبسونه = نه یو سرای نه یوه خونه

حبسوي لوی هیوادونــه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي بندي پرې نه پوهیږي، داسی شو دزولانې رنګ

غلی شانتـــه انقـــلاب دی ، بدلوي د زمانې رنګ

===========

سره واوښتل قومونه = ویښ خبر شول له ژوندونه

دویدو شوه وران کورونه

ګوره کله به شي نوی،دپښتون د کاشانې رنګ

غلی شانته انقلاب دی ، بدلوې د زمانې رنګ

یا دا وکړه، یا دا...

یا انجام شه یا آغاز شه = حقیقت شه یا مجاز شه

طبیعت د نغمې سازشه = یا پخپله نغمه ســاز شه

یا فطرت سره همراز شه = د قدرت د بال پرواز شه

یا قدسي مرغه آواز شه = یا پخپله قدسي بـــاز شه

د آسمان د ښکلیو نازشه = یا د ځمکي د مخ رازشه

مشه مشه ګوره مشه

تش خیالي پوچه سودا = یا دا وکړه یـــا دا

===========

یا د خپل حیات تقدیر شه = یا په فکر د تدبیر شه

د زاړه ژوندون په ویر شه = یا خپل نوي ژوند ته ځیر شه

یا په بل تاثیر تغیر شه = یا پخپله ټول تاثیر شه

یا د نورو دستګیر شه = یا خو ته د نورو پیر شه

مقتدا د خپل ضمیر شه = یا د بل چا په تکبیر شه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هستی واړه نیستي ده

بې جنبشه بې صدا = یا دا وکړه یـــادا

============

یا آسمان د هستۍ رنګ کړه = یا دنیا جوړه د ننګ کړه

یا ژوند خوله کښې دنهنګ کړه = یا دژوند سره جنګ کړه

یا دښمن په وینورنګ ګړه = یا بدل دوینو رنګ کړه

یا جال لړي د فرنګ کړه = یاومرګ ته سرپه سنګ کړه

یا خاموشه زوړ آهنګ کړه = یا د نوي نغمې ترنګ کړه

پاڅه پاڅه دا ژوند مرګ دی

چې نه هغه کړې نه دا = یا دا وکړه یــا دی

=============

یا آسمان د سوځند اور شه = پرظالم باندي نسکور شه

یا څپانده سیند په شور شه = خونړی سیلاب په زور شه

له دې هسکو غرونو خپورشه = د اټک سیلابي ورور شه

د دښمن په کلي کور شه = له خپل دوست نه ځار هر لور شه

یا د ټول اولس پېغور شه = ځان ژوندی ښخ کړه په ګور شه

وایــه وایــه راتــه وایــه

چې ته څه ته یې پیدا ؟ = یا دا وکړه یــا دا

=============

یا خپل واک شه ځان دځان کړه = ځانته بېل جهان ودان کړه

سره ګډ دا زوړ جهان کړه = بله څمکه بل آسمان کړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوی غر نوی دامان کړه = نوی ژوند د کوهستان کړه

نوی عزم نمایان کړه = د زوړ فکر دماغ وران کړه

ځان دي سم د سیال په شان کړه = یا بدل نوم د افغان کړه

یا ژونــدون دی یا مرگی دی

خو که نن وي که سبا = یا دا وکړه یـــادا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسهار ستـــوری

ښایسته ستوری دمیني = هر سهار را پورته کېږم

د آسمان په تندي باندي = لکه خال غوندې ځلېـــږم

تر نظر مي هر څه لاندي = کائنــــــاتو ته مسېـــــږم

پورته کښته په جهان کښي = وهر چاته ښه ښکارېـږم

جمادات که حیوانات دي

دا ټول وینمه تېـــرېـږم

هیڅ تعبیر ئې په ما نشي = څه قانون ددې جهان دی

نې عدم ، عدم ته ورته = نې وجود ، وجود په شان دی

کله یو کله بل رنګ وي = په سل ډوله نمایان دی

په یوه مځکه کښي ګورم = ګاه پسرلی ګاهي خزان دی

وتغیـــــرتې حیرانېـږم

دا ټول وینمه تېرېـــږم

په هروخت کښي چي زه ګورم = ښېلی ، ښېلي ننداري وي

څه ګړی چي لار لیده شي = بیا وحشت توري تیارې وي

روغ ناروغ ئې پېژند نشي = هر طرف سوي ناري وي

دهـــر شي په حال خبرېږم

دا ټول وینمه تــــېریـــږم

نن به ښکلې معشوقه وي = سپینه خوله په هوس خاندي

زلمیتوب په میو مسته = څملي پاس په پالنګ باندي

بیا دوهمه ورځ ئې اورم = چي پرې وایي عالم ساندي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بېباک فلک له لاسه = شي تر تورو خاورو لاندي

په حسرت حسرت ژړېـږم

دا ټول وینمه تېــرېـــــــږم

ما په هره زمانه کښي = ناکامۍ د عشق لیدلي

له بېلتونه په هر ځای کښي = سرې لمبې دي لګیدلي

په شپو شپو مي پلوشو ته = مینان دي کړیدلي

ځګر سوي لالهانـــــده = په سرو سترګو ژړیدلي

زه ئي هم په آه ویلېـــږم

دا ټول وینمه تېــرېــږم

ما انسان حیوان بېل نکړ = که څه تېر شول ډېرکلونه

انسانان وایي وځان ته = تر حیوان ئې بد خویونه

کله خدای له ځانه جوړ کړي = بنده ګان ئې په زرګونه

کله ټیټ شي چي کوي به = د غوایي عبادتونه

په دي راز هیڅ نه پو هېــږم

دا ټول وینمه تېــــــریږم

ځیني بت و ته سجده کړي = ځیني لمرو ته نسکور وي

څوک اوبو ته معبود وایي = څوک بنده غلام د اور وي

څوک منکر بیخي له خدایه = د چا فکر درې څلور وي

هر انسان خپل مسلک ستایي = مذهبونه لور په لور وي

په کارو ئې زه شرمېــږم

دا ټول وینمــه تېــرېــږم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ظاهره سترګه ور وي = حقيقت کښي هيڅ نهويني

د تقليد سکه زامن وي = په درواغو لري ميني

غولېـدوکښي هسي باس وي = د شيطان پرېکوی سپيني

که بينا پکښي پيدا شي = تل به خوري د زړګي ويني

لـــه انســانه وېـزارېـــږم

دا ټول وينمـــه تېـرېـــږم

يو دبل غوښو ته وږي = خولې ئی وازي سخت لېوان وي

نه په مرګ د چا ويشتلي = نه د چا سره خپلوان وي

يتيم کونډه کړوي تل = بيا په دې ژړا خندان وي

د خوارانو ويني وڅښي = مست په دې شراب روان وي

پاس په سر باندې څرکېـږم

دا ټول وينمـــه تېـرېـــږم

کله وينم چي شرق لوړ وي = د مغرب ترې اقتباس وي

تمدن خپور له آسيانه = په يوروپ ئې انعکاس وي

د تهذيب لوړي دنيا کښي = له دا نورو پورته پاس وي

د جهان قومونه واړه = په احتياج د دوی د لاس وي

حريـت بــاندې نازېـــږم

دا ټول وينمـــه تېـريږم

خو دا بله ورځ چي وينم = بيا د بل د لاس غلام وي

نه ئې شان نه ئې شوکت وي = ځني پاته ننګ و نام وي

د يوې ستني د پاره = د غرب لور ته په سلام وي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند ئې بيل نه وي له مرګه = ابتــدائی په انجام وي

په غمونــو کښې نولېــږم

دا ټول وينمـــه تېــرېــږم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لېوني تــرانه

زه يم لېنوی غمجن = لځي پښي صورت پمن

نشته د کميس لمن = نه مي پر خولۍ چکن

پورته کښته ځغلم، هميشه دی دا روزګار زما

نشته په چا کار زما

===========

نه مي زوږ کالی دی سم = نه مي شته د نوي غم

خپله خپل ګريوان څيرم = کله ئې په بل ګنډم

خوښ د افلاطون تر فلسفې دی خپل ګفتار زما

نشته په چا کار زما

===========

اورم منتـــــونه زه = ګالم زحمتـــــونه زه

څټ باندي زخمونه زه = وينم ستمــــــونه زه

هيڅ اثر پرې نشي ، لوی ځګر دی بار بردار زما

نشته په چا کار زما

===========

ګرځمه په لـــــر وبـــر = نه يم په دنيا خبر

خوشي وايم پيــل وغر = نشته تر ما څوک بتر

ژوند مي د تقليد دی ، تل په بل پسې رفتار زما

نشته په چا کار زما

===========

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورک انسانيت وينم = هر چيري وحشت وينم

ظلم د قوت وينم = ضعف ملامت وينم

هيڅ متاع مي نشته ، رانه څه غواړي اغيار زما

نشته په چا کار زما

===========

ښه يم داسي لڅ لغړ = نه پټ په پردي ګودړ

نه يم د موټر که وړ = پلی هم زه نسوم مړ

ولي به نو پروت وي ، د بل چا پر اوږو بار زما

نشته په چار کار زما

===========

هر باغ کښي ګلونه دی = بلبل آوازونه دی

رنګ په رنګ سيلونه دي = خوښ د زلموزړونه دي

ما په ټول ژوندون کښي هيڅ ونه ليده بهار زما

نشته په چا کار زما

===========

ځانته په ښکنځل يمه = بل ته په ستايل يمه

ځای د خندا تـــل يمه = خپل کور کښي د بل يمه

خوښه د لالا ده ، ما ورکړی دی اختيار زما

نشته به چا کار زما

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمــا اوښکــــو!

توی شئ توی شئ اوښکو توی شئ = لا تر څو پر ځای ولاړي

په سخت موج ووزئ بهر ته = چې ړندې شي سترګي دواړي

د دردمنو زړو له درده = لېمـــه ژاړي ژاړي ژاړي

نو راتوی شئ زړه مي چوي

بیا غمـــــــونه شوه را نوي

بینائي د سترګو څه ده ؟ = بې فائدې خوشي کتل دي

چې مې زړه لاځني تور شي = دهغه ظلمت لیدل دي

یو زړګی ترې جوړ نه وینم = د دې دهر دا درمل دي

ورک له سترګو دا کاته کړئ

څاځئ څاځئ ژر واتــه کړئ

د زړه ښکلې آرزو مي = د خپل څاڅکو سره یو سئ

چي ئې نه وینم په سترګو = د عـــــدم لمن کښي توسئ

دا بې نوره سترګي پرېږ دئ = چي مو خوښه هلته اوسئ

قدر نه لرئ هیـــــڅ چـــاته

په حسرت درومئ بل خواته

ها امید چي مې زړ ګوټي = په خپل وینو دی روزلی

په کوګــــــل کښې ئې دننه = له هر ظلمـــه دی ساتلی

د سبــــا سبـــا په نوم ئې = ډېر کــــــــلونه غولولی

اوس ئې زر بیایئ عــــدم ته

مې پرېږدئ نور دې حرم ته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو چي كوچ كوئ له سترګو = اوښكو ستاسي نه فدا شم

دا ناكامه ژوند هم واخلئ = پرېـږدئ ما چی نیمه خوا شم

بې بهرې له زلميتـــــــوبه = نامـــراد ولاړ له دنیـــا شم

سور په وينو كړئ ځګر مي

و مينځئ د ژوند دفتر مي

په دا شان می نوم کړئ محوه = چي شم هېر له هره ياده

د بيابان د ګل په څېر مي = كړئ بې اصله بې بنياده

ښه چي زه له دې جهانه = په ځوانۍ ومرم ناښـــاده

خو چي ژوند مي شي ويجاړه

شئ امېــــــل د دوست په غاړه

كله كله ورته واياست = چي مونږ اوښكي د زلمي يو

ستا په ياد له دنيا تللي = په مـــــــــاتم ئې ماتمي يو

ښه يادګار دده د ميني = ستا په غاړه سره غمي يو

خوار مین دی يادوه تـــل

دا يادګار ئې ښه ساته تل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای ږو د ژړا یمه

یو د خپل ځان نه یم = نور چي ګورې ، د هر چا یمه

خــــدایـږو د ژړا یــمه = خــــدایــږو د ژړا یـــمه

ځــانتـــه درمل نه شوم = خو د نورو تل دوا یمـــه

خــــدایـږو د ژړا یــمه = خــــدایــږو د ژړا یـــمه

==========

نوې شوه نغمه دژوند = ګرمه هنګامه دژوند

تیزه قافله د ژوند

یو زه تنهــــــا پاته = بې جرس او بې صــدا یمـــه

خــــدایـږو د ژړا یــمه = خــــدایــږو د ژړا یـــمه

===========

بند په ساحري د چا؟ = قید کړم سامري د چا؟

وریت شوم په نغري دچا

سوځم نه پوهېـــــږم = ورتېـدو کښي په خندا یمـه

خــــدایـږو د ژړا یــمه = خــــدایــږو د ژړا یـــمه

===========

ځانته ویرانه یمه = بل ته خزانه یمه

پټه خزانه یمه

یو مجنون مي نه موند= د جنـــون هغه بېدیا یـــمه

خــــدایـږو د ژړا یــمه = خــــدایــږو د ژړا یـــمه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



===========

سر مي ريز مريز وينم = زړه کښي مي خونريز وينم

څنګ ته مي انګريز وينم

ويني مي خوراک دي = د خوني د لاس صهبـا يمـه

خـــــدايـړو د ژړا يـمه = خـــدايـړو د ژړا يــــمه

==========

کوه شته دی کوه کن نشته = جوش شته دی جوشن نشته

توره شتـه تور زن نشتــــه

په ځان مي څه و نه کړه = په تعريف د تېـــرابا يمـه

خـــــدايـړو د ژړا يـمه = خـــدايـړو د ژړا يــــمه

==========

ځم په حرکــــــت د بــل = يم پـه اشـارت د بــل

کړمـــه هدايــــت د بــل

واک مي د ځان نشتــــه =د ړندو دلاس امسـا يمـه

خـــــدايـړو د ژړا يـمه = خـــدايـړو د ژړا يــــمه

==========

ورکـــــه ابتـــــدا زمـــا = سر شــــوه انتهـــا زما

تورتـــم ده دنيــــا زمـــا

نن پـــــرون مي ولاړه = ناخبره له سبــــــــا يمـــه

خـــــدايـړو د ژړا يـمه = خـــدايـړو د ژړا يــــمه

==========

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که نه مي کړ تدبيـــر بدل = نه به شي تقديـــر بدل

گرځم به ضميــــر بـدل

نور مي پښتــــون مه بوله = پېـــغور د پښتونخوا يمه

خـــــدايــږو د ژړا يــمه = خـــدايــږو د ژړا يـــــمه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پردېسانو هديـــــره

څه خبر يم چي الهام و ، که روحي کيف و ، د ميني

په روڼو ستـــــــرګو مي وليد ، ياحالت و ، د ويدني

هيڅ تعبير ئې په ما نشي ، له ما مه غواړه څيـــړنه

لېـــونيو نه به څو کړې ، کيفيت او کيف پـــــوښتنــه

که ته روغ ئې رانه باڅه ، روغ به څه اوري غمونه

ناروغـــانو ته په کار دي ، د ناروغـــو فريـــــادونه

==========

د صحرا لور ته رهي وم ، نا خبر له خپله ځانــه

تمدن مي تر شا پريښـــود ، کناره شوم له انســانه

چي آزاد د زړه په خوښه،خپل د سوز ناري فريادکړم

د قدرت لمن ته غوځار شم،چي دا چا هسي نامراد کړم

آه ، ماته غوښته چي ښاد شم،دي ناقص انسانيت کښي

ما بهر له دې جنجــاله ، غوښته نور څه حقيقت کښــي

هو ! ښادي دي وي دنورو ، ماته غـــــم د ميني بس دی

له دې غمه دي خلاص نشم،څو په خوله کښي مې نفس دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



==========

په دې حال د غره وخواته ، تلمه ډوب په اندېښنـــو کښې

د ماښام تیارې خورې شوې ، د آسمان په کنـــــاروکښې

ځای به ځای به ځلېـدله، د آسمـــــان په تندي ستوري

سپوږمۍ‌هم ورو،ورو،روانه،تله د خپل مقصد په لوري

خـامـوشي وه وهر لور ته ، نه انسان نه ئې آواز و

له آسمـــانه بیـا تر ځمکي څه چي و ، د مینی راز و

نه څه خیال د جهانګیــــرۍ و ، نه د وینو تویـــول و

نه د خپــل مقصد د پـاره ، د بل روغ انســان وژل و

او نه دا چي قربـــاني شي ملت څو تنـــو د پـــاره

یا ضعیف پښو کښې پامال شي ، د ظالمـــو له آزاره

==========

زړه مي پاک شو له وحشته ، چي له خلقو کناره شوم

روح مي والوتئ فضا ته ، د خپل ځان په ننداره شوم

بې اختیــــاره مي له خولې نه ، ووتل ساړه آهـــونه

لکه دا چي قــدرت ویني ، زما د سوي زړه داغـــونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه کښي پټ د میني اور و ، بیا را پورته ئې لمبه شوه

چي په تاومي ئې له سترګو،څو سره څاڅکي را ایله شوه

روح له خپله ناکامیه ، غوښت چي ولاړ سي آسمانو ته

هم هالته ځان تسلیم کړي ، د سپېـــڅلي عشق لاســـو ته

په دعا په مناجات شو ویل : �درومي غواړه خـــوا ته

د ناکـــامه مین روح یم ، یم ناکـــــــام راغلی تـــاته�

===========

په دې وخت له تورو خاورو، یوه �آه� شوله راپورته

ورسره سوی آواز و، ورو، ورو، لاړ د آسمان لورته

له آوازه دا ناري وې:�چي مي هیـر نګـــړې نفســـه!

زه هم تا غــــــوندی ځلمی وم ، ولویدمــه له هوســـه

په وطن کښي مي همزولي ، شا وخوا رانه چاپېـــر وو

یو بر بل سره مین وو ، د دنیـــا غمــــونه هېـــــر وو

چي په ډله کښي به چیـــري ، دیوه په زړګي غـــم شو

د دا نورو په خنـــــدا به دغه ویر له منځــه کـــم شو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



غولول په منځ کښي نه وه ،زړوته تېـرخواږه ياران وو

نه مو لاس د بل په کار کښي،نه غرض مو په جهان وو

ما پيښ کړی کوم ضرر و ، وم د چا پر پښه ختلی

چي فلک زار وزبون کړم ، راغلم خاورو ته نتلی

نورهمزولي به وي هلته، به عشرت اوپه هوس کښي

زه جـلاله خپـــله سپـله ، دلته بند شوم په قفــس کښي

دا د کوم ناترسه لاس و ، چي ئې بېـل کړم له تړليـــه

خوږ وطن را څخه پاته ، مرگ مي شو له ناکـــــاميه

لاس دي مات شي په بندو کښي،چي ياران به بېلوي څوک

يا نفسي مقصـــــد د پاره ، دزړه مينـــه ژوبـــلوي څوک

==========

دا آواز لا خاموش نه و ، چي له بلي خوا فرياد شو:

�ما هم هېره نه کړې گوره ، زلميتوب مي نامراد شو

دا زما حال هم پورته عرض کړه،آه نامراده يو نجلۍ وم

باعفتــــــــه پښتنـــــه وم ، را وتلې له کـــــږدۍ وم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځه کاله دي چي کیږي ، یار مي بند دی په زندان کښي

زه هم یار پسي را ورکه ، شوم بندي په ګورستان کښي

په کږدۍ کښي سره ناست وو ، ما پر یار کول نازونه

د وصــــال لومړی ساعـــت و ، ناخبـره له بیلتــــونه

دا لومړۍ شپې د واده وې ، چي مي یار سره وصلت و

لاس په لاس به ګرځېـدلو ، زړه په زړه سره صحبت و

راز و نیاز دمیني خبور و ، خوله مي ډکه له خندا شوه

د فلـــک څپـېړه راغله ، خندنۍ خــوله په ژړا شوه

یار ئې و یوست زما له غـېږی،به ژړا،ژړا جدا شوم

دی بندي شوپه زندان کشی،زه ځوانمرګه نیمه خواشوم

له وطنه شوم را بېـله، نه مي پلار شته ، نه مي مور شته

خاطره د یار د مینی ، بل دغه خــــــاوری د ګور شته

نه مي څوک پر جنازه و ، نه پر مرګ مي چا فریاد کړ

نه مزار باندي ګلونه ، نه مي بیا نوم چـــــا په یاد کړ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژړا دي سترګي ووزي ، چي مين به ژړوي څوک

آل عيال دی په کړاو شي،چي به زړونه کړوي څوک

=========

دې فريــاد لا ازانګـــه کړه ، چي يو بل نری آواز شو

د ماشوم د زړه ارمان و ، چی څرګنده ئې پټ رازشو:

�دګناه نه پاک ماشوم وم ، د خپل پلار سره فرار شوم

مورمي مړه شوله په لاري، په حسرت ترېنه کنارشوم

پلار مي مړکئ ظــالمانو ، زه ئې پرېښــــودم بې پلاره

آه څه سخت زړه د انســـان دی ، نه ويرېـږي له آزاره

نه مي ناز د بابا وليد ، نه د مور په غېـږ کښي لــــوبي

کله دلته کله هلته ، رنګ می زيږ ستــــرګي بې خوبي

په شپو شبو به وږی تږی، يخ ته پروت وم تر سهــــاره

د زړه سوي په ستــــرګو ماته ، هيچا نه کتــل له عاره

څوورو،وروپه رنځ اخته شوم،مرګ مي شوپردي وطن کښي

نور له حاله خبر نه يم ، چي يم پروت د چــــا کفــــن کښي

د بشر نوی نهال وم ، چا محروم کړم له ژونـــــدونه؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه تر تورو خاورو لاندي ، زما د زړه ټول امیدونه

رب دې مرګ په ناکامۍ کړي،چي ماشوم آزاروي څوک

یا چي زوی له موره بېل کړي،اوپلاردارېې پلاړوي څوک

==========

په زرګونه فریادونه ، شوه را پورته په فضــــــا کښي

چي ټول مړه له ناکامیه ، و مو نه خندل دنیــــــا کښي

زه مبهوت ولاړم دې حال ته،چي دا څوک دا څه غوغا ده؟

زه خو تښتـېدم له خلقو ، دلته هم د شور دنیـــــــــــا ده

په حیرت په اضطراب شوم ، چي دا څنګه منظــــره ده

چا په غوږ کښي راته و وې، پردیســــانو هدیـــــره ده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يتيـــم نغـــــمه

په ژمي کښي:

نه لرمه پـــلار او مور = خوار يتيم يم سر سر تور

تور لحد په شان مي کور = نه می شته ديگدان کښي اور

آخ � له يخه مرمه زه

واخ څوک نلــرمه زه

ريږدي مي له يخه ځان = ورک مي شو له تنه توان

لوند مي په ژړا ګرېوان = ليری ځي له ما خپلـــوان

آخ � له يخه مرمه زه

واخ څوک نلــرمه زه

پښې مي لڅي تش مي نس = نه مي دي څپلۍ په وس

خيژي مي تر خولي نفس = ومي نه ليد هيڅ هوس

آخ � له يخه مرمه زه

واخ څوک نلــرمه زه

نور ټول پلوونه خوري = ښه ښه سالنونه خوري

هر راز کبابونه خوري = خوار يتيم غمونه خوري

آخ � له يخه مرمه زه

واخ څوک نلــرمه زه

خان صاحب چرچې کوي = خپلي تماشې کوي

هر طرف مېلې کوي = کور کي ښې لمبې کوي

آخ � له يخه مرمه زه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخ څوک نلــرمه زه

خان صاحب ابتر نه دی = پاته ئې موټر نه دی

زما په حال خبر نه دی = لځ ئې د زوی سرنه دی

آخ � له یخه مرمه زه

واخ څوک نلــرمه زه

زوی د خان لري برېستن = ټول به سندلۍ کښې پلن

زه یم لځ لغړ پمـــــن = نشته د کمیس لمـــــن

آخ � له یخه مرمه زه

واخ څوک نلــرمه زه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یتیـــــــــــم اختـــــر

نه هوا بل رنګ موندلی = نه آسمان دی را لوېدلی

نه تغیر د حیوان ښکاري = نه بشـــر دی الوتــــلی

نه ورځ شپه اونه شپه ورځ شوه = نه څه نوی ژوند راغلی

هغه ځمکه هغه لمـــر دی

خلک وايي چی اختـر دی

نه حال بل شو د خوارانو = نه تن پټ د بېــــوزلانــو

اوښکي چا نه کړې ورپاکي = د کونډېــــانو یتیمــــانــو

وړی ترږی ژوند کوینــــه = اوښکې ځي پربا ړخوګانو

خان ئې څه په حال خبردی

خلک وايي چی اختـر دی

یو هلک ورکړ پیغورډېر = یو یتیم ته چي و،توردېر:

ګوره څنګه سوراوسپين یم = بابا جان مي دی غمخورډېر

ګــــلالي کالي مي ونيـــې = دا لاڅه لرم به کـــور ډېـر

دا مي کوټ، دامي مپلر دی

خلک وايي چی اختـر دی

ځانته ګوره څنګه تور یې = وچ لرګی یې سوی سکور یې

لڅ لغړ کمیس دې نشته = د چا زوی یې د چا ورور یې

د رګـو ويني دې وچي = ته وا ښخ ژوندی په ګـــور یې

لڅي پښې سرتور دي سر دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایه ستا هم څه اختـــــر دی ؟

یتیم و وې :�ای مغروره = لږ څه کوز شه له غروره

سترګي پرانیزه ځان ګوره = آسمـــان مه وهه په تــوره

دا زما په وینـــو ډک یې = چي غړ مبېـــرې له سروره

ستا ژوندون زما په سر دی

خود به وایې چي اختـر دی

زه به ژاړم ته خندا کړه = زه کاهېـږم ته نڅـــا کړه

اختر ستا دی زه یتیم یم = څه،خپل لوبې مشغولا کړه

زه به خدای ته کړمه ناري = ته نازونه په بابـــــا کړه

زما له لوږي پوخ ځګر دی

خو پر تا باندي اختر دی�!!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېــــنوا بلبـــــل

په خزان کښي:

سر تر پایه سره لمبه شوم = روغ زړګی مي سوی سکور شو

نه ایرې نه مي دود ښکاري = بل راباندي څنـــــــګه اورشو

نه لمبه مي شوه خاموشه = نه رڼا دا تیـــــــــاره کور شه

په نارو مي ګل ویښ نشو = څه عبث مي د خولې شور شو

آه سپېـــره لو هدیـــره وه = له بلبـــــلو دا بڼ تـــور شـــو

تېـوله مره دي ، ټوله مړه دي

که زاړه دي ، کـــه واړه دي

د لباخته شیدا بلبـــل وم = کـــړه پر ګـــل می آوازونـــه

سحري نغمو کښې ګل ته = را وړه ما پټ الهـــــــامونه

ما وې زه به ګل خبر کړم = د خزان له شـــوا خونـــــــه

ګل ویده غمــاز را پاڅېـد = زمانــې مات کړه وزرونـــه

آه ،وچاته درد اظهار کړم = په سینه مي ځي خــــــارونه

ټولـــه مړه دی ، ټوله مړه دي

کـه زاړه دي ، کـــه واړه دي

په خندا په نڅا راغلـــم = ما وېل اوس به نو هوس کړم

د سره ګل پر څانګو باندي = به خوشحاله خپل نفس کړم

د بوستان زیب و زینت به = په نغمو کشي یو په لس کړم

دا ویدي غنچې به ویښي = په آهنګ د خپل جرس کړم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له صیاده چاته زار کړم = چي بندي ئې د قـــفس کړم

ټوله مړه دي ، ټوله مړه دي

کــه زاړه دي ، کــه واړه دي

پرون گل سره همراز وم = نن ئې بوی لاموندای نه شم

چا له سېـــله را جلا کړم = خپل همزولي لیدای نه شم

وزرونه ئې را مات کړه = په هوا الوتــــای نه شم

ژبه تېـــزه لرم خوله کښي = خو آزاد ږغېــــدای نه شم

غم شریک یاران مي ولاړل = زه تنها پاتېــــــدای نه شم

ټولـــه مړه دی ، ټوله مړه دي

کــه زاړه دي ، کــه واړه دي

بڼ خالی له زوږ او شوره = آواز نشـــته د بــلبــــلو

ځالې ورانې پــاڼې ژړې = سرخي والـوته له گــــلو

نه به بیــــا د گل لمن وي = چي ئې نیسم په منگــــلو

نه غیبي قاصد به راشي = چي احوال را وړي د تللو

نه ملگری شو را پاتــه = د خپــل زړه د راز ویــلو

ټولـــه مړه دی ، ټوله مړه دي

کــه زاړه دي ، کــه واړه دي

ښه دی ښه چي گل تالا شو = له خزانــه به څه وایـــم

جوړ بهار پر ما خزان دی = چي قفس کښي مبتلا یــم

آه صیاد له سختـــــه دلـه = لابه څو په واویـــلا یــم

له ازلــــه بد نصیـب یم = داسي نه چي نن پیـدا یــم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک مي نشته چي مي ياد کړي = بېنــوا يــم بېنـــــوا يــم

ټولـــه مړه دی ، ټوله مړه دي

کــه زاړه دي ، کـــه واړه دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هم ژونـــــــد ؟؟؟

څه خبر یم چي ژوندون دی = او که ښورو خوشي هسي

نه مورنګ شته نه موبوی شته = په ځان لوړو خوشي هسي

پخوا وو ، اوس څه له نه یو = دانه ګـــورو خوشي هسي

نه صُغرا شته نه کُبرا شته

هیڅ قیاس کـــــولای نشو

هري خوا ته تاریـــــکي ده = هیڅ رڼا نه را ښکاریږي

هرڅوسترګي سره کش کړم = یو بینا نه را ښکـــاریږي

دغه مړ دی هغـــــه مړ دی = څه وینا نه را ښکـاریږي

پــه بینا سترګو ړانده یو

سمه لار لیـــــدلای نشو

څوک ځي پورته،څوک ځي کښته = داد دې زمان ناورین دی

سترګي روڼي څه نه وینو = روڼ چیني راته خاورین دی

د ځان شهد ګنډېر بولـــو = د بل مرچ راته شیـــرین دی

کـله پاڅو کلـــه پرزو

ټینګ اساس ترلای نشو

په دیوال کښي کوږ سوری وي = خو بوښکی ځیني خو ځیـږي

رنګ د ګل خوند ئې د پیازوي = هر سړی باندي غولېــــږي

ته ئي بوم بولې ځان بازکړي = هر مرغه تربــــنه وېرېــږي

د وجدان وجدان ناري دي

خو اثر ئي کتـــای نشـــو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزر شته الوتاى نشـــــو = چا مات کړی مو وزر دی

خوله لرو ږغېــــداى نشو = دا د کوم جـادو ، اثر دی ؟

خپل پايخې مو زولنې شوې= ځکه حال داسي ابتـــــر دی

زړه مو سوځي خوله مو پټه

د زړه درد ښودلاى نشــــــو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوهستـــــان شفق

هندو کش په سر لمبې دي = که آسمان سره کناره ده

د کوم سوي زړګي آه دی = یا د وینـــــو فـــواره ده

که چنګیز د عصر توره = چي له تېکي را ښکاره ده

یا خو بل د مینی اور دی = د فلک پرې سوی کور دی

د سکندر د وخت شهید دی = په حسرت ګوري بګرام ته

یا لیوال روح د عاشق دی = چی ورځی د یار ســـلام ته

یا واله د ســــــرو شرابو = چی توئیږي یوه جـــــام ته

دا میدان د کربـــلا دی

که سالو سورد لیلا دی

دا زړګی د آسمان وچاود = که سینـــــه د دیـــــوانه ده

یا ساقي له لاسه ښکتـــــــه = چپـــه شوې پیمـــــانه ده

اوکه درس دعبرت لیک دی= ښه رنګینـــــه افســـانه ده

مونږ ته یاده جانبازي کړي

د نیـــــکونو سربازي کړي

د مومن د زړه په وینو = شیرینو سور کړی لاس دی

که کفن د شهیــــــدانو = پرېښتـــو نیولی پــــاس دی

یا دنیا کښي خونریزي ده = پر اُفق ئې انعکــــــاس دی

یه ! شفق د کوهســـتان دی

را چاپــــیره پر آسمـان دی

دې شفق کښي ستوري ښکاري = که صدف دی سره دریاب کښي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا حساس زړه د شاعر دی = چي ډوب شوی په خوناب کښي

یا یتیـــم دی اوښـکې څاڅي = ددې دهر په سیـــلاب کښي

که سپـــین غاښ دی ځلیده کي

د محبوبې په سره خـــوله کي

دا په غرونو اوریځ نه ده = دود شو جگ له کوهستانه

یا سپېـرې پاڼي تاریــخ دی = چي قصې کړي له بامیانه

یا خو گرد زمونږ د پښودی = چی بـاج اخلي له آسمـــانه

دا چي شنې ډکی ولې دی

د اسمــان د مخ خولې دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپـــین غـــــــــــر

جگي جگي ساقي راشه = د خوږمن زړگي په خوا شه

ستا له سره سپـــلنی شم = ترسروستـــرگودی واری شم

راته خانده راته داد کړه = پخپل داد بې وزلي ښـــاد کړه

زما لوري ته ډېرډېرشه = تربې درد عالم را تېــــــر شه

په پیـــاله مي کړه نمنځنه = رانه لري کړه پوهنـــــــــه

چي خراب مست دیوانه شم = له جهـــــانه بیگـــــانه شم

سوز وساز د میني را کړه = لیونی عشق دا عطـــا کړه

چي دردمن سره یاري کړم = له بې دردو جــــــدائي کړم

روح آزاد زړه مي خوشحال شي = پاک له خیرو له جنجـــا ل شي

لکه موج مست مي گذر وي = طوفـــــانونه مي په سر وي

کور د ی۔لم و ستم وران کړم = لوړ او ټیټ سره یکسان کړم

تر تا وگرزم را پـــور ته = ساقي مه کوه ځنډ نـــــور ته

هله را کړه د تـــاک وینه = چي مي یخه شي پرې یـــنه

هغه تاک چي ئې رودلي = د سپین غر شیدې سپېڅلي

په سر سبزو شنو درو کښې = په جاري ډکـو شېـلو کښې

د ډبرو له ښخـــونـــــه = له خوږو سپینو چیـــــنونه

چي سپین بازغوندي پروازکړم = د سپین غره نغمه آغاز کړم

په نغمه کښې مي شرر را = مسیحـــا غونـدي اثـــر را

چي دا مړ قوم بیا ژوندی کړم = ورته هیش خپل وپردی کړم

خلاص ئې کړمه له ذلته = د غــــرور له بد غفلـــــــته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لړ تکان وخوري بيدارشي = د خپل ژوند په کاروبار شي

په دې پوه شي چي ژوندون اوس = غواړي بل رنګه افسون اوس

نه خلاصيږي په وينا څوک = په مـــــړانه د بابـــا څوک

لابه څو فخر په پلار کړي = يا په نوم د خپل ټبار کړي

ولاړېږئ ولاړېږئ هلاکېـــږي = که مغرور شو تباه کيـــږي

ساقي پاڅه پياله را کړه = له اور ډکه مي وينا کړه

چي د دې غره په لمن کښي = په دې لوی دشت و دمن کښي

په آواز مي زلمي راشي = بيا د سپين غره شاوخوا شي

پښتنو جرګې شي غونډې = مرکې ئې هر ځای پنـــډې

په يو زړه به يوه خوله شي = يو له بله سره ملـــــه شي

دا خراب کور بيا ودان کړي = په دنيا کښي ښکاره ځان کړي

بېـله فرقـــــه يو ملت وي = بېـلتون نه وي ټول وحدت وي

و سپين غره ته له آسمانه = د نيکه روح شي ګويـــــانه:

�دلته دي د غـــــرو لمني = زموږ کړدۍ دي پکښي پلني

دا وګړي دېر کړي خدايه! = لويـه خدايـه ، لويـه خدايـه!!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا پښتـــــــــــون

پښتونخوادغرونوخواکښي= قدرتي ښکلې فضا کښي

د جنت غوندی رغو کښي = آسماني رنګه بيديـاکښي

يو قوت قدرت څرګند کړ

له هر چـــائې ارجمند کړ

شو سيراب له زمريتوبه = آزاده لــه مريتــــــــــوبه

عزم ئې ټينګ ورکړوده له = بهــــر ورله سړيتـــــوبه

د پښتون په قوم ئې ياد کړ

له هر قيــــــده ئې آزاد کړ

پاک له هره خبــــاثتــــه = له پستۍ له د نائتــــــــــه

سر ئې تش له بــده فکره = زړه ئې ډک ؤ،له غيرته

د ميګون فلک را لاندي

باک ئې نه ؤ په چا باندي

چي د توري بې برېښنا شوه = پرې رڼه به پښتونخوا شوه

چي نيستي ئې دده غوښته = د هغو هستي تــــــالا شوه

د دښمن مخ ته لوی غرو

خو د دوست د بلا سپرو

وې نيــوله هيـــــــــوادونه = کړ د ځان ئې ډير ملکونه

ډېر شاهان ئې کړه بې تاجه = ډير ئې کوز کړه له تختونه

هم شاهۍ به ئې بخښلې

چي په توره بې ګـــټلې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه د روغ نه ټيټــــــالونه = نه د ورور سره جنګونه

نه پردي لاس کړي پرې لوبي = نې پردي ته کړه کارونه

خپل ئې فکر خپل دماغ و

خپله خوله خپل ئې اياغ و

خپله مېنه خپـل وطن و = خپل ګلزار او خپل چمن و

د زاغـــــانو ګذر نه و = خپل بلبــل او خپل ګلشن و

جوړه خوښه خوشحالي وه

د پښتـــــون پښتونولي وه

نه پرې نوم د بې ننګۍ و = نه پرې داغ د غلامۍ و

نه ګويا د بل په ژبه = نه ئې فخر په پستۍ و

په پښتو ژبې ژوندون و

ننګيـــالى آزاد پښتون و

نه پوهيږم چي څه وشوه = څه بلا په کور دده شوه

يوه توره تياره راغله = سپينه ورځ ئې لکه شپه شوه

دا تياره د غرب له خوانه

شوه چاپيره پښتونخوا نه

پر پښتون باندې تور تم شه = خپل پردی پرې يو رقم شه

تور ئې نه پيژند له سپيـــنو = د ښه بد تميـــز ئې کم شه

رو،رو، ورکه بهتري شوه

رفعت لاړئ کـــهتري شوه

نفاق راغئ دده کور ته = شو وحدت له منځه پورته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنگ د وینو ئې بدل شو = شو روان د فنـــــا لور ته

یو بدن ټوټې ، ټوټې شو

هر یوهډ ذرې،ذرې شو

دوی ګټله بل خوړله = دوی ساتله بل ترې وړله

دوی به ډني تویولې = نور به خوښ و ، خندېدله

خو چې مرګ وته نژدې شو

بې قوتـــــــــه بې اسرې شو

وطن خپل اختیار د بل شو = قوت خپل په کار د بل شو

خپله ژبه خپله خوله کښې = پرې جاري ګفتار د بل شو

باندې وشول ډیر ظلمونه

هم هـــزار رنګ ستمونه

اوس دمړه په شان بې ځانه = ناخبر پروت له جهـــانه

نه ئې پوهه نه ئې کار شته = هر څه غواړي له آسمانه

تش خپل نوم وربانـد بار دی

دا پښتـــــــون دائې کار دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پســــــــرلـــــی

بیا ئې وڅکل له کم ځُمه ډک جامــــونه

دا د هسک پېغله چې ناځي له جنــــونه

له مستۍ نه ئې ساغر له لاسه پرېـــوت

په ځوځاځکو ئې کړه مست سپېره ډاګونه

له خندائې دغابښو ځــــــلا برېښنـــا شوه

مرغلـــــري لونوي پر سنګېــــــــرونه

په ملال ملال کاته چې ګــــــوري بڼ ته

له هوسه ورته خولې سپـــــنې ګـــلونه

د بادام ونې چې شنډې وې په غرو کښې

ورپه غاړه ئې د جنــــــډو کړه هارونه

ته وا خپل د زلمیتــــــوب کـــالینه نیسي

چې خپاره ئې کړل پر دښت شنه میزرونه

هر سهار ئې ښکلې مخ دی سره وایي کا

که ئې وویشت د مین زړه له څنـــډونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ښکلا نمنځوي بيا پښتني پېـــــــغلي

چي شين شين ځي په خندا به مکيــزونه

د زلما په ميـــو مستې چتهــي ګـــــوره

چې خپاره ئې لور په لور کړه اوربلونه

هم ځغـــلا کا ، هم نڅـــا کا هم شڼـــا کا

چي تر څنګ کړي د روپو سپين امیلونه

د کږديو مخ غاښـــولو سور بخمـــل کا

چي پرې وکـــا زلمي نجوني اتڼــــونه

له سپېرو خاورو بامي ګــــــلونه پاڅي

چي پرې تېــر شي د جنکيــــــو پلوونه

د کـــــــړونګي دي ږغونه به درو کښي

لا دپـــاسه پرې د چـــوڼو آوازونـــه

وايي اوس به سپــل د نجنو باندي راسي

زلمي ځکـــه ورته نيسي ګـــــودرونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپېڅلتـــوب ، مينه يو بل ته سره ورکا
په هر ځای چي مخامخ شي مين زړونه

کتہـــهار د زرکو مړه زړونه ژوندي کړه
چي نغمو نغمو کښې ستايي شينکي غرونه

د غره هر بوټي ته وايې جار له تا شو:
ستا په مينه کښې ښندي زلمي سرونه
دريدي جنډو وړمه ئې تر سپـــــږمو شوه
داچې پاځېـــده هوسۍ له مېــــــــږتونه

هلمند بيا په ځپـــــو راغی، غاړي غاړي
چي ورغاړه غړۍ شوه ځپـــــان نيزونه

د پسرلي ناوي و دېږي ورائې پنـــــــډه
مخ کـــــاته اخلي د غرو سور کي لالونه

ننـــــــــدارو ته ئې وتلي لوی واړه دي
خو چا مسته خندا را وړه چا غمـــــــونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وبېدردو ته ئې ډکـه خـــوله مســــــا کړه
د دردمنـــــدو زوږ ئې لازيات کړه دردونه

دهغــــو به څه پســــرلی وي چي ولاړ وي
په کــــږو غــــاړو د بل بر در څــــــلونه

ژوند ئې وي د بل د پـاره مړيني هــــــم لا
جـــــاروي د بل ترخـوی تل خپـــل خويونه

د کنهــو په څېر د بل په خنــــــدا خــــــاندي
يا غورځـــا کا د پرديــــو په ډولـــــــــونه

يا خو يو له بـــــله خوري د ګور چنجي شي
يا بيــــــــــزاره وي د يو بل له ژونــــدونه

يا هيڅ سر نه ټيــــټوي آسمـــــان ته هم لا
يا مريی غــــــوندي ولاړ په ســــــلامونه
آه ، څښتـــــنه چي دي ژوند هر شي ته ورکا
په زرغا دي و نمـانځـل سپـــــېره رغونه

چي کــــــريابي مېرې ستا له پيـــــرزوينی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شنې تالې شوې ، شنې لمنې ، شنه دښتــونه

مونږ له هسې ژونده و ژغوره خــــــــاونده

خپـــلواکي مو تل نصيب کړه څو چي يونه

چي مو ژوند د پسرلي په څېر سمسور وي

خوند به اخلو له دې ښکلي نندارتــــــــونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپـــــــــوږمـــــۍ

د آسمان لویه دنیا کښي = ته سپوږمۍ ښکلي زیبا یي

رنګ الوتي ګونه زرده = ته ویشتلې به زړه چایي

جوړه ما غوندي غمجنه = څوک دی نشته یک تنهایي

خپل ښایست درپوري اورشو = که له یاره بېنـــــــوا یي

راته ووایه له میني

څه در سوي نازنینی؟

لالهانده سره ښورې = په شپه هر ځای کښی ولاړه

محبت یو په زړه سوي = راشه کښېنـــو سره دواړه

زه به تا ته زړګی تش کړم = ته و ماته لاس تر غاړه

غم د میني به نیمی کړو = په یوازي سر مه ژاړه

ښایسته یې ګلالۍ یې

د آسمان پېغله نجلۍ یې

لکه اوس چي یې پخوا هم = د مینو هر ځای مله وې

خوار مجنون که پر سارا ؤ = ته هم سمه ورسره وې

د شیریني حال دي ولید = د فرهاد په غم کشی ته وې

چی به راز د مینی خپور ؤ = دهغه مجلس ډېوه وې

مقتولان د عشق لیدل تا

په وروورو به پرې ژړل تا

د آسمان پر غولي ګرزي = تا د شرق عظمت لیدلی

راز و نیاز د کوه طور دي = له موسی نه غوږ ایستلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بلال د اذان ږغ تا = پر دې خاوره اورېدلی

هم گرېوان ته د رسول دي = په تعظيم ځان غورځولی

هغه وخت د شرق رفعت و

پر مغرب باندي ظلمت و

په اوبو کښي سره رېږدې = ښايسته دي په تاغرونه

ستا رڼا ته هوسېــــــــږي = درېدي ښکلي گلــــونه

د زلمو زړه ته ور تــــېره = خوښ په تا دنجونو زړونو

ستا په ښو شغلو کښې غواړي = مينــــــان خپـــــل اميدونه

وفــــــاداره معشوقه يې

د عاشق د زړه ټوټه يې

د"مجروح" مين زړگی يې = سپوږمۍ ښکارې و جهان ته

د همزولو له ټوليـــــــــــه = "بېنــوا" تللې آسمـــــــان ته

چي"الفت"دی پکښي نه ليد = شوې په قهر و انسان ته

يو "مخلص" دي بيا ونه موند = چي هرځودي کش کړه ځان ته

ټول بې دده ، درد من نشته

ټـول بې واکه،واکمن نشته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتنـــي مينـــــــه

ميــــــــن:

بيا دي ولي خوار مين ته نظر نشته

ته وا زړه کښي دي د ميني اثر نشته

په موسکۍ کښي دي د زړونو ژوندون پټ دی

په خندا دي خولګۍ سپنه ضرر نشته

روني اوښکي مي سوغات را وړي تا ته

د بې وزلي مين نور څه ګوهر نشته

زه هم ستا له بې نيازيه په مرګ خوښ يم

په کتو باندي مي وژنه ، خنجر نشته

په روح سترى په زړه ژوبل يم راغلی

په پسته غېږ کښي مي نسيه بستر نشته

زما ژوند دي هم محبوبي واړه ستا وي

خوله نژدې کړه نفس واخله خطر نشته

آه غلط شوم ته پخپله زما نفس يې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تا پایم بې له تامي بشـــــر نشته

نه پوهیږم چي څه پیښه شوه دنیا کښي
چي دي خوا ته د مین هیڅ گذر نشته

په ژړا دي سترگي سرې لکه د زرکي
رنگ الوتی ستا په راز څوک خبر نشته

د مینو په ژړا بدي مسکی کړ
چا آزار کړې چه تر تا بل ابتر نشته

چي به تا آزاره وي رب دې آزار کړي
د مینو د آه غشي ته سپر نشته

راته وایه د ژړا سبب دي څه دی
لېونی شوم هیڅ مي فکر په سر نشته

په پریشانه خاطره د زه قسم خورم
چي بې تا مي په دنیا بل دلبر نشته

میـــــــــنه:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتون په وير اخته يم چي ژړيږم

پښتونخوا کښي نجونې پاتي دي نر نشته

دا چي ما آزاره وي د ملک غليم دی

هيڅ په زړه کښي يي څه ډار د محشر نشته

ما و تا به سره بېل کور به ويجاړ کړي

چي يي کور خوندي کاوه ها ټبر نشته

چي پوړنی را څه وړي ما ژړه وينه

د بيوزلو نجونو وړونه مګر نشته

ځه ورځه : دا لباسي مينه دي پريږده

زما له ميني دي هيڅ داغ پر ټټر نشته

تر هغو مي د مخ ديد پر تا حرام دی

څو دي لاس سره د غليم په پرهر نشته

د پستې غيرې مي هيڅ هيله ونه کړې

د چړو زخمونه ستا پر ځيګر نشته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته هم زوی د پښتانه يي دا مه وايه

چي وس وخت کښي احمد شاه يا اکبر نشته

سپينه خوله به په مورچه کښي در تا جار کړم

چا وې دا چي ژوندانه کښي کوثر نشته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مهجـــــوري نجلۍ اختـــر

مينه دي اور سوه = گرانه نگاره!

سترگي ځلورشوې = له انتظاره

رنگ مي الوتی = سينه افگاره

پريشان اوربل مي = خپوردي بيکاره

پر څه جلا يې؟ = زما له کناره

راشه اختـــــردی

مسافـــــــرياره!

==========

وخت د سهار دی = نســيم چلېـــږي

د غــــرو لمنې = گلان غوړېـــږي

زرکي دي خاندي = آبشار بهيـــږي

يو تـــــانه وينم = وير مي زياتيږي

په اميـــد گورم = د راتلـــــو لاره

راشه اختـــــردی

مسافـــــــرياره!

==========

نجوني هر لور ته = کوي سيلــــونه

په هوس نـــاځي = خوشاله زړونه

سترگي ئې توري = سره ئې لاسونه

څوک ديارغيږکښي = کـــــوي نازونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



آه یـــوه زه یم = په زړه بیمــاره

راشه اختـــــردی

مسافـــــــریاره!

==========

کېږدۍ شوې توري = زمـــا له غمــه

سترګې خونبارې = د زړه له نمــه

یمــه لوېدلـــــې = له خپـله برمه

که ته را نغلـــې = خدایږوچې مرمه

ولې مې وژنې؟ = په زړه خونکاره

راشه اختـــــردی

مسافـــــــریاره!

==========

ځواني مې دود شوه = پېغلتوب خاوري

بیلتون ایرې کړم = له یــــوې واري

زړګی مې وچاود = وینې شوې داري

پـــــاته له ما نه = د ژوندون چـاري

یم بې نصیبـــــه = ستـــا له دیـــداره

راشه اختـــــردی

مسافـــــــریاره!

==========

پسته مې غېــږده = درته نیــــولې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپينه خولگۍ مي = تا ته ســــاتلې

د هجـران اورمي = سينـــه داغلې

په انتظار دي = غره ته ختلې

په تن ستومانه = روح ناقراره

راشه اختـــــردی

مسافــــــــر ياره!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مـــور نـــــاره

دزړګي سر ئې زما = د ژوند ثمر يې زما

نور البصر يې زما = شيرين پسر يې زما

هله پاڅېــــــږه زويه

ژر پورته کېـږه زويه

زويکه لمر ختلی = وطن ئې ټول نيولی

حال د ويدنې تللی = وخت د ويښتوب راغلی

بلبـــــلان بيا چغـــېږي

همزولي ستا مسـېـــږي

هر څوک کارونه کوي = خپل روزګارونه کوي

ښه خدمتــــــــونه کوي = هر لور سيلـــونه کوی

مکتب ته ځي هلکـــان

د وطن نوي ګـــــلان

ته هم راپور ته شه ژر = څو به بيده يې ابتر

سر ته راغلی دی لمر = لږخودی ځان کړه خبر

تر څو يې پروت بيکاره

زويه ! د خدای د پــاره

و تا ته پـــــاته وطن = په خوږ ئې اوسه خوږمن

خوب په کارنه درځي نن = پرېـږده ګدله بڼستـــن

وسم ميــــدان ته ووزه

نوي جهـــان ته ووزه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتون پت وساته = د پلار غیرت وساته

انسانیت وســـــاته = خپل شان شوکت وساته

ورک کړه بې ځای چرتونه

د سرې غرمې خـــــــوبونه

دښمن خندا کړي پر تا = خپلوان ژړا کړي پر تا

ځیني وا وا کړی پر تا = څوک واویلا کړي پرتا

هلته دښمن شو خوشحال

خپلوان دي ګرځی ملال

ما چي ته ښه روزلې یا په جـــارجـــار بللې

په شیـــدو ما پـــاللې خوب ته مي نه ساتلې

ته ولي وغځېــــــدې

په ژوند ، ونه پوهېدې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ولـــــي ... ؟

طبیعت مي بر خلاف شو = هم په خروښ راته فضا ده

خپل قلم د اجل مــار دی = خپله خــوله راته بـــلا ده

چوکۍ ځای نه راکوي هیڅ = نه د مېـز په ما رضــا ده

لـړژوندون را پوري اورشه = اوس په مرگ مي ښه سلا ده

زړه مي سیند دی د غمونه

عقل محو کړ موجــــــونو

زه پر خپل وطن غریب یم = خوار وطن تر ما غریب دی

نه خواخوږی مي لیده شي = نه مي یو چیري حبیب دی

زي تېرونـــی دځان بولم = هم هغـــــه راته رقیب دی

قند ، عسل راته گنډېر شي = زما هسي بد نصیب دی

کتاب هم رانه کنار شو

له کتني مي ویزار شو

خوښۍ لیري کړم له ځانه = چي مي نه راځی خندا هیڅ

سترگي هم راته قهرېـږي = اوښکي نشته د ژړا هیڅ

خوب له مانه مرور شو = ویښتوب جوړنه کړه له ماهیڅ

زه پښتو لیکم پاړسي شي = قلم هم نه دی پخــــــلا هیڅ

خبر نه یمه له میني

وچي شوې دبدن ویني

راحتونه دي د نــــورو = زما په برخه تکلیـــــفونه

زما د خپل لمني اور دی = چي سېځی مي اندامــونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي نې خوند شته نه ئې رنګ شته = مرګ بهتر له دې ژوندونه

طبع هم شوه ګـــــډه وډه = شوه بې وزنه مې شعـــرونه

زه له شعـــره"بېنـــوا" يم

خبر نه يم چي څه وايم ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه...

چي په خپــــله مستقــــل يمه له ځــانه

څوتر څـــو کـــړم د نورو تقليـــــدونه

زما شعــــر دی نسيـــم له کوهستـــــانه

ويښـــــوي د پښتنـــو سپيڅـــلي زړونه

مداح نه يم چي په زيات صفت څوک ستايم

نه له چا څخه مي هيـــله د دنيـــا ستـــه

څو ژوندی يمه رښتيا رښتيا به وايـــــم

په درواغو مي له خولې کله وينا ستـــه

قام به ويښ کړم لکه دم د مسيحـــــا يم

له غليمـــه زما کـــله څـــه پروا سته

تملـــــــق مي منــــافي دی له وجدانـــه

مقيــــد نــه يـــم آزاد مي دي بيتونـــه

============

د يار در ته نه يم پروت په گـــدايي کښي

زرغونو درو کښي ښورم لـــــکه بـــاز

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه د ښونډو په شراب يم په مستۍ کـــښي

له هر څه د وطن ميني کــــــړم بي نيــاز

د مطرب حاجت مي نستـــه په نړۍ کښي

چي په زړه کښي مي سوميشت دوطن ساز

مليت په کړم د لمر په څير روښـــــانه

نه کړم نور د خال و خط زلـــفو غمونه

=============

کـــــله تېــز ترخه ويل کړم و ملت ته

له هر لوري ورکـــوم سختي طعنې زه

کله بولم خپـــل ملت خوی د وحدت ته

په پسته ژبه کوم دوی ته گيــــــلې زه

بيا يې ستـــرگي واړوم زاړه عظمت ته

ورپه ياد کړم پاني پت خوږې قصې زه

دا الهام مي راځي زړه ته له اسمانــه

يا د دې پاکي فضا دي دا خويونــــه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پردیـس پسرلی

دسبا وږمه چي راسي = نوي نوي غوټۍ واسي

بلبلان نغمه سرا سي

د خوښۍ صحنه خپره سي = خویوزه په زړه خوږمن یم

آه پردېس د بل وطن یم

لاس په لاس یاران تیرېږي = یــو و بل ته هوســــیږي

په ورو ورو سره مسیږي

زه د زړه سره ژړا کړم = له نصیبه ګیــــله من یم

آه پردېس د بل وطن یم

په ګلو نو پټ سوه غرونه = غاټول سره کړه شنه د ښتونه

زلمي نجوني کړي سېلونه

نو به څه دا پسرلی کړم = پرور ده د خپل چمن یم

آه پردېس د بل وطن یم

څوک مي نسته چي يې یاد کړم = په لیدو يې زړګۍ ښاد کړم

بېلتون هسي نامراد کړم

زړه ته تېر ملګري نسته = چي يې میني ته نیازمن یم

آه پردېس د بل وطن یم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خندا تلقین رامه کړه = په ژړا مي زړګی ښه کړه

ستا چي زړه وي هغه وکړه

ما نو پرېږده چي همدا سي = په زړې میني دردمن یم

آه پردېس د بل وطن یم

تر دې شنه آسمان را لاندي = ډیري ستړګي ژړا کاندي

څوک خبر نه سوه پرې باندي

زه هم دوی سره ژړا کړم = په سرو سترګو یې مین یم

آه پردېس د بل وطن یم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اختــر او تنهـــايي

معلوميږي چي اختر دی ، دوه ياران مبارکباد کړي

مرور سره پخلا شوه، يو د بل زړونه به شاد کړي

غېـږبه غېـږلاس په لاس گرځی،چي يې خوښه هغه داد کړی

خويوزه په تنهايي کښي،څوک مي نسته چي مي ياد کړي

جارقربان ترتنهايي شم،چي له هرڅه يې بې نيازکړم

نه مي څوک بولي وځانته، اونه زه چاته اواز کړم

=============

نه څوک زما راتگ ته گوري،نه مي چاته انتظار دی

نه ملگری چي لاس را کړي،نه مي مل د مينی ياردی

تنها راغلم تنها سوځم،خپل ژوندون راته انگار دی

د دردمن زړه سره ناست يم،په بېدردو می څه کاردی

دوی دي خاندي هوسيږي،زه به ويني د ځگر خورم

يا به ورسم تر مطلبه،يا په دې لار کښي به سرخورم

==============

هو،اختردي وی دهغو،چي ئې زړه خلاص دی له غمه

يا چي يار لري و څنگ ته ، خبــــر نه دی له الــمه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا چي مست په مال دولت وي،بې پروا وي له عالمه

چې نه د انـــــــــه ئې ، څه به گرځي بې ماتمـــه

د بل لاس که په نکريځو ، دده زړه سور په خوناب دی

لاسو پښې وهي چي ووزي،خپل وجود ورته درياب دی

==============

ژونده!زما څه په کار نه يې،ځه هغو ته چي دي غواړي

په يوه لحظه بېلتون دي ، په رټ رټ درپسي ژاړي

که زما په اختيار تله کړې،سپخوه د وجود لماړي

اوکه نه آزاربه واخلې،درته خلاصي مي کړې غاړي

نور مي مه ساته ناکامه، ژرمي و سپاره عدم ته

له کم لوری وم راغلی، بو مې زه ، هغه حرم ته

===============

مرگه! مکړه رانه ډډه، زه له تانه غمگين نه يم

د ناپوهو په څېر تاته،تريوتندی اندوهگين نه يم

راشه راشه مه ببرېـــړه ، په راتلو دي حزين نه يم

دا پرده له منځه واخله وپست ژوند ته خوشبين نه يم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خندا خندا را درومه،څوک مي نسته چي ژړا کړي

او يا ستا د لاسه پورته ، آسمانونو ته غــــــوغا کړم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تمــدن وحشـــــت

دا قدرت که طبیعت دی = یاپه خیال کی څه پېرې دي

د مرگ ژوند حقیقت ورک دی = خوشي لوبي مسخرې دي

دنیا نه ده سینما ده = راز په راز یې ننداري دي

ثانیه کي چي خوښي وي = ور پسي د غم سوري دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بیا د شرق وخواته سرې دي

پر آسمان اوریځي گرزي = د مثبت او منفي جنگ دی

دمغرب خواته دي تندري = اوقیانوس په وینو رنگ دی

سیلابونه دي بهیــــږي = د بېـوزلو وطن ړنگ دی

بڑلی اوري پر فصلونو = د تناهم غــرغــــړې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بیا د شرق وخواته سرې دي

تمدن دی که وحشت دی = انسانان یې تار په تار کړه

خپل وطن هر چاته اور سو = له ژوندونه یې بېزار کړه

د پاریس نازک وگړي = تمـــــدن په ظلم خوار کړه

هم د روس د ښکلیو نجونو = هر طرف ته غلبـــــلې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بیا د شرق وخواته سرې دي

چي د ډانس بې تماشې کړې = اوس بمــونه باندي اوري

ښه نازک سپین بشرونه = باندي پروتي خاوري توري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انسان په غوښو ټنډ شول = د درياب مايان چې ښوري

ښه دی ښه دی چې دا وشوه = تمدن دا نتيجـــــــــي دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بيا د شرق وخواته سرې دي

مورړ لا اوس له خوبه پاڅو = خوبياشپه ورو،ورو،رادرومي

و فلک ته څه اميد کړي = له شرابه به څه مومي

وايه داچي د چا ښکار شو = هر چا ايښي راته لومي

خپل فنا ته مو هوس دی = له خندا مو ډکي خولې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بيا د شرق وخواته سرې دي

د غروب توره تياره کښي = شمع وسوه سرتر پايه

پتنگان ټول ځني ولاړه = يو پر مړ نه سو بې پايه

غوټۍ هم سوې زاره چاودي = زړه يې خيري کی له وزايه

پر هر بڼ باندي چي ورسې = د بلبــــلو دا نغمـــــې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بيا د شرق وخواته سرې دي

پر مشرق خو لا لمر ښکاري = اما نه لري رڼا هيـــــڅ

تمدن يې شو مخ پوټی = فرق يې نسته دمخ شا هيڅ

مشرقيان هم ټول بيده دي = غم يې نسته د سبــــا هيڅ

که پرون سره پر خواوه = نن يې يو بل ته پلمــي دي

د فلک خونخواري ستــرگي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د شرق وخواته سرې دي

بیده څه بیده خوښه وي = غم لا بل ددوی پر کور دی

ځني بد وایی انګلیس ته = جرمنی یې لکه ورور دی

څوک جرمن په بده ستايي = تل یې خوښ د انګلیس اوردی

د خپل ځان فکر یې نسته = داڅه خــامي اندېښنــې دي

د فلک خونخواري ستــرګي

بیا د شرق وخواته سرې دي

د مغرب رباب بې سوره = د ساقي پیـــاله شوه ماته

مجلس ټوله هک پک ناست دی = انتظار یې دغرب خواته

معشوقې ته څوک نه ګوري = خپل نفس اور سوهرچاته

پـــه ژړا، ژړا ، آواز دی = د مغني دا ترانـــې دي

د فلک خونخواري ستــرګي

بیا د شرق وخواته سرې دي

د بیوزلي شرق له غمــه = زړګی وچاودی د مځکي

نفت یې مه بوله د تیلــو = په ژړا یې چینـــې ډکي

د شرقي مځکو په اوښکو = د غلیــم ځــي الوتـــکي

لوی پېغام له دغو خاورو = زموږ وخواته دا نغمې دي

د فلک خونخواري ستــرګي

بیا د شرق وخواته سرې دي

اوبه نه دي چي بهیږي = د رګوویني د غرو دي

چي د شرق په ویراخته دي = سر ګردانه په رغــودي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليوني ، ليوني شــــوري = لالــهانده لـــه غمـودي

سر وهي له هري گـــاري = دايې پټـــي زمـزمي دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بيا د شرق وخواته سرې دي

وني هم شوې پر ملا خمي = وايي وېش موږبه بېديا شو

پاڼي ځکه سره ريـــــږدي = آه افسوز موږ به د چا شو

چي زر کاله مو خاوند وو = په حسرت به ترې جلا شو

ښتنان مو ژوندي مړه دي = ځکه سوستي مو رينښې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بيا د شرق وخواته سرې دي

ای دشرق نيازمنو خاورو = يوار پرېږدئ زموږ ښاغلي

چي قبرو ښخه راپاڅي = ځو تر ځو بې ساتئ غلي

له دې حاله يې خبر کئ = غليمان کور ته راغلي

نه يې حق نه يې سند سته = خوشي،خوشي يې بهانې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بيا د شرق وخواته سرې دي

و حجاز ته دا پيغام کړو = شرق ورانيږي محمده ﷺ

د اسلام مغلوبېـــــدو ته = چال جوړيږي محمده ﷺ

د خپلوی په چال ستا شرع = نن ورکيــــږي محمده ﷺ

ستا پر پاکه شرع باندي = جهالت توري پردې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د شرق وخواته سرې دي

دانسان د ژوندون لاري = تا و مورِ ته راښوولي

چي په حق څوک عالمان وو = هغه مرگ رانه بېولي

اوس وارث د انبیـــا وو = دوی تر مورِ بتر لړلي

پر هر څه یې اختلاف دی = پراسقاط د دوی جگړې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بیا د شرق وخواته سرې دي

بیا صدیق رفیق ته وایو = توره وباسه له تېکي

عمری هیبت په کار دی = چي غلیم له شرق پرې کي

د عثمان مړانه څه شوه = یا حیدر چي پر نارې کي

دا دشرق د امید سترگي = ستاسي لورو ته گرې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بیا د شرق وخواته سرې دي

ورسه ژر د سبا باده! = " ولید" پاخوه له گوره

نور نو څه قبر کي پروت یي = د خپل شام وحال ته گوره

بیا"مامون""هارون" ته عرض که = ورته ووایـــــه په زوره

چي بغداد په مدرســو کي = په لوړ ږغ دغه نـــارې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بیا د شرق وخواته سرې دي

بیا نو ژر ولاړ سه نسیمه = "ایوبي صلاح الدین" تـــه

له هغه ځایه بیا تېــر شه = د موصل و" نور الدین"تـه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



استمبول پر سیمه ورشه = زمورږ پښتون"جمال الدين"ته

وا را وپاڅېٔ له خــاورو = د شرق شا و خوا لمبې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بيا د شرق وخواته سرې دي

د ښه مصر په هيواد کښي = "زغلول" ولي بې صدا شو

طرابلس کښي"سنوسي" هم = پر څه ستړی له غـــزا شو

"شهبندر" له سوريـــې نه = په کوم لوري الونيـــا" شو

ولي نه اوري "خالد"هيڅ = چي هر ځای دا انگازې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بيا د شرق وخواته سرې دي

د غزني "محموده" څه شوې = د پښتون تېـــر خوريـــه

سومنات دي ريز مريز کئ = بيا سر پورته که زلميـــه

پر شرق ورغړوه سترگي = غليــم څه کړي برياليـــه

"ارسلا" ته وا را ووزه = په شرق شوي څه کانې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بيا د شرق وخواته سرې دي

نه"غياث"نه"شهاب الدين"سته = سوه بې رغه د غور غرونه

غزنويان او غوريان ولاړه = چي پر بل بې وه بريدونه

د شرق نوم پر جهان لوړ وو = چي يې وه هسي مړونه

اوس د شرق له ژوندو خلقو = جوړي سوي هديرې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د شرق وخواته سرې دي

"چنگیز" هم دشرق له خاورو = مگرځه چي دی بد بخت وو

همد دې ځای کي"خسرو" و = چي نامتوشاه د خپل وخت وو

"کیکاس""کیقباد" زموږ وو = هم پرشرق د"جمشید"تخت وو

اوس له بلخه د باخـــــــتره = سازي شوي کنډوالې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بیا د شرق وخواته سرې دي

"مصطفی کماله" پاچــــــه = د تورکانو بیا زړه شین شو

هم "محمد فاتح" که پورته = پر مشرق نژدې ناورین شو

چي وځای د انبیــــــاوو = اوس د چا ښه فلسطیــن شو

آیا شـــرق نوبې مړو دی = چي د هر چا پر حملې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بیا د شرق وخواته سرې دي

چي په سترگو نه ښکارېږي = چیرته ولاړ"امیر غازي"نن

پر عــــــراق يې گذر نسته = چي بیا وکي سربـــازي نن

د اسلام په منځ کي راغله = یوله بله بې نیــــــازي نن

چي مو وژني بې اجلــــه = دا مو خپل د لاس چړې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بیا د شرق وخواته سرې دي

"احمدشاه" ته وارا پورته = ستا ډلی د بل په لاس کي

پښتنـــــوالي تاسي یووړه = پښتانه دي په افلاس کي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د باور متـــــاع يې نشته = ټوله ډوب شوه په وسواس کې

په خپل کورکي شنه زمريان دي = پر بهر يې ماتي پښـــې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بيا د شرق وخواته سرې دي

سترگي روڼی که "ميروېسه" = په زنگ پټه شوه ستا توره

يوار بيا پښتـــون ژوندی که = د غليم مور کړه پر بــوره

ته هم بيا راسه و غور ته = ای"شيرشاه"ښاغلي سوره

د شرقيانو حال ته گوری = دغربيــــانو بازېچــې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بيا د شرق وخواته سرې دي

"نادرخان"غازي ښاغلی = ددې خاوري بريالی وو

هم مصلح هم مفکر وو = جوړ د شرق يو نوميالی وو

"اکبر خان"هم د دې مځکي = يو غښتلی ننگيالی وو

څه سوه څه سوه ها وگړي = چي يې پاته کارنامې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بيا د شرق وخواته سرې دي

آه دا ټوله مړه پراته دي = نه را درومي ماته خدايه

ته ملجــــايي د خوارانو = زموږرجوع ده تاته خدايه

لارمونسته چيري ولاړشو = ښيله تا و چـــــا ته خدايه

چي يې تل ليده رحمت ستا = دا هغه خاوري پرتې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د شرق وخواته سرې دي

یاقوت راکې وموږ ته = یاپې ته تبت یـــــــدا کړه

یا نازل پرې ابابیل که = خاوندان د فیل تبا کړه

یا پر خاورو حکم وکه = مړه مړونه ژوندي بیا کړه

پخوانی عظمت له تا وو = اوس مو هم تا ته اسرې دي

د فلک خونخواري ستــرګي

بیا د شرق وخواته سرې دي

بس ته بس ته نور نو نه ځم = د سپېرو خاورو قبـــرو ته

چي پردوی وه دوی خووکړه = زیاتي څه ژاړم و مړو ته

اوس به دا نامه تقدیم کړم = د مشرق ټولو ژوندو ته

خپل له ځانه مستقـــل شی = ستاسي خوی د بل پېښې دي

د فلک خونخواري ستــرګي

بیا د شرق وخواته سرې دي

لومړی وارخوبه کړم وړاندي = دا نامه و " ظاهرشاه " ته

چي زلمی پښتون ټولواک دی = لوی خواخوږي پښتونخواته

په دي ترڅ کښي به عرض وکم = چي څه حال دی د شرق خواته

استقبـــــال ته د همت ستـــــا = د شرق خلاصي دروازې دي

د فلک خونخواري ستــرګي

بیا د شرق وخواته سرې دي

ستا د زړه په پښتنوالي = ګوندي بیا مشرق ژوندی شي

لکه و چي پخوا اوس هم = له هر چانه ګړندی شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي اوبه تللي واله کښي = بیا هم هلته تېرېدی شي

څه که تېر نیکه ګان نشته = زموږ لاهم ویني تودې دي

د فلک خونخواري ستــرګي

بیا د شرق وخواته سرې دي

بیا نو وروسته مي اهدا ده = وپښتون صدر اعظم ته

سیاست کي بریـــــــالی یې = غلیم پاته نه سو چم ته

د شرق خاوره تقسمیــــږي = د یورپ ګوره ستم ته

ته په غم کي د شرق وسوې = خو ملګري دي بې ښې دي

د فلک خونخواري ستــرګي

بیا د شرق وخواته سرې دي

بیا به عرض د شرق د حال کړم = وښاغلي "شاه محمود" ته

شنه زمریان دي ستا په لاس کي = هڅه وکړه و مقصود ته

کریچ دي وباسه له تیکي = دا به وایم و "داؤد " ته

د شرق غم دی په فضا کي = څوکي توري د کسې دي

د فلک خونخواري ستــرګي

بیا د شرق وخواته سرې دي

و ایران ته به لېــــږمه = دا نامه لکه کـــــــوتره

چي عرض وکي "پهلوي"ته = د شرق خاوره ده اوتره

د پاریس په توګه مه شــه = عیاشي پرېـږده له سره

اروپــــا سوي اورونــــه = ستا وهر لور ته نژدې دي

د فلک خونخواري ستــرګي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د شرق وخواته سرې دي

د تورکانو پر هیواد هم = ورسه اې نامې رنګیني

و"عصمت" وته دا وایه = په جوش بیا راوله ویني

د "سیدام" پر سیاست بیا = آفرین وایه د میني

په دوستي دي دښمن وخوړ = ستا دلاسې کُلمې شنې دي

د فلک خونخواري ستــرګي

بیا د شرق وخواته سرې دي

ته نـــــــامه د محبت یې = تلواري ځه په مزلو کې

د هوسۍ په شاني درومه = د حجاز په ښو رېګو کې

وایه دا "ابن مسعود" ته = د حرم په دروازو کې

چې کعبې ته د هر لوري = رسیدلي دا ورمې دي

د فلک خونخواري ستــرګي

بیا د شرق وخواته سرې دي

وحدت څه شو د عــــربو = چا پاشلي لور په لور دی

پخوا هم دغه نــــژاد وو = اوکه دا عرب بیا نور دی

شرق مرکز د علمیت وو = هم له ده تمدن خپور دی

د عربــــــو تودې ویني = اوس پر څه باندي سرې دي

د فلک خونخواري ستــرګي

بیا د شرق وخواته سرې دي

په اول "فـــاروق" د مصـر = خپل سلام تقدیمو مه

بیا به وروستــه له ســـلامه = د زخمي زړه عرض کومه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي فرعون په نیل کي غرق که = مصــر بـــاسه له ستـــــمه

خپـلی گټي دي پردۍ شوې = ستا په کور د بل چړچې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بیا د شرق وخواته سرې دي

د عراق وغازي زوی ته = زما سلام دی په څو ځله

رب دي لوی که وغزا ته = د عرب د امیـــد گـــله

گوندي ته یې متحد کړې = قام بېـــزار شو یوله بله

"گیلاني" له ملکه ووت = د دښمن لا خرخښې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بیا د شرق وخواته سرې دي

دا نامه مي درته عرض ده = مجـــاهد"مفتي اعظـــــمه"

یهودیان له ملـــــکه باسه = فلسطین خلاص که له غمه

بیا د شرق په غم شریکه = لیڅي غـــــــړه محتــرمه

مستقبل مو گوندي ښه سي = د حال چاري بې مزې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بیا د شرق وخواته سرې دي

ها د شرق زلمیو واوری = د ښـــه پاک آرین له پښته

جهان ستا سي مسخر وو = هم آسمان او مځکه نغښته

خپل سرونه ټول قربان کي = د گران شرق تر یوه خښته

یو له بله متـــــــــحد شی = په نفاق مېني سپېرې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د شرق وخواته سرې دي

ای فلکه بس ته مه کړه = پر شرق باندي نور ظلمونه

د تخریب قوه دي ډېـره = ورانوي ودان کـــــــورونه

تر پرون لا نن بتر یې = ستا پر موږ دي څه پورونه

هر سهار د شرق په وینو = ستا گلـــــگوني کناري دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بیا د شرق وخواته سرې دي

ته هم اې د شرق آسمانه = زموږ پر حال باندي ژړېږه

څو تر څو به شین ښکارېږي = سره وښوره خړېـــــــږه

لاتر کمــــــه به ولاړ یـــې = د دښمـــن پر سر نرېـــږه

ستا په ارته فضا کي = د هوا داســـــي څپې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بیا د شرق وخواته سرې دي

د ایشیـــا مستقـــــل غــرونو = ولي نه ســـــــره گډېــږی

استقــــلال مو محو کیــږي = د دښمن په لا ورانیـــږی

لا د مخه تر زوال خپـــــل = له بد خواه سره جنگـــږی

په هوا ستاسي ژوندي یــو = چي سر سبزه مو درې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بیا د شرق وخواته سرې دي

ولي نه ایشئ له خروښه = د مشـــــرق لویو سنـــــدونو

یا د زړه د تاوه وچ سئ = بیا شرق پاک کئ له غمونو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا د سرو،وينو ډک راشئ = د ښمن غرق کئ په موجونو

لږ همت درته پکار دی = هر طرف ډکي شېلـــــې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بيا د شرق وخواته سرې دي

ستورو يو يو راکوزېـږئ = رجُوماً للشــــــــيطين سئ

دا عبث چشمکان پرېـږدئ = مُخربيـــن للظالمــين سئ

غليمان کړی د شرق محوه = هر يو کاڼی آتشيـــن سئ

مريخ څه ريـږدی له قهره = تېــز کاته هم د زُهرې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بيا د شرق وخواته سرې دي

اې زمورږ د پاسه لمـــره = انتظار نو زياتي مکـــــږه

خپل د جذب قوه واخلــه = دا کُره لاندي شوه کـــــږه

چي ټوکړه ، ټوکړه شي واړه = سره گډه مځکـــــه ته کره

دښمنان د شرق ړانده که = خنجر واره دي شغلې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

بيا د شرق وخواته سرې دي

راديـــو ته هم گډېـــــږه = له آسمان له خوا کړه ناري

چي شرق يو دی يو به اوسي = تل به ځي پر يوې لاري

غليمان به خود حسد خوري = چي شرق و نه لري ساري

هر ملت په تا وينبــــيـږي = ستا ځپې هرځای خپرې دي

د فلک خونخواري ستــرگي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د شرق وخواته سرې دي

د پښتو په مېخــــانه کښې = که رشتیا " بېنوا" مست يې

سترګه مه کوه د چا څخه = په دنیا کې چې څوهست يې

مست خو تل حقیقت وایې = که ته نه وایې نو پست يې

د قـُل ،قـُل ږغونه واروه = دا امــرونه دښیــښې دي

د فلک خونخواري ستــرګي

بیا د شرق وخواته سرې دي

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**